


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

---

د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » ليکنه
د نشرنيته : 11 سپتامبر 2025 ميلادی

# د ژوند هدف!

ژوند د څه د پاره دی؟
که ژوند بی کاري وی، نو مرګ څه شی دی؟
ژوند واسطه ده ، او که غايه او هدف؟
ژوند ښه دی، او که مرګ؟
زما په فکر ډير ژوندی دي چی د نورو ژونديو برخه خوری، بالعکس ډير داسی خلک مړه شول چی د هغو د ژوند د ګټو او فائده و څخه تر اوسه خلک استفاده کوي.
حقيقتاً چی د ژوند په راز هر څوک نه شی پوهيدلی!
ژوند يوه لوبه ده ؛ په دی لوبی کښی سر بيره په منډو او ترړلو په سلهاو او زرهاو هلی او ځلی هم شته دی.
نو ژوند ته بايد په عادی او سرسری نظر و نه کتل شي ، او نه دومره بايد د غور وړشي چی د يو با افتخاره مرګ نه مهم وګڼل شي.

**د ژوند هدف:**
**ځيرنه ، تجربه او مشوره د ژوند مزيت زياتوي!**
**جنبش او حرکت ، جديت او فعاليت ، د ژوند معنی ده!**
**نو لازمه ده چه:**
**ـ انسان په سالم منطق او طريقه ، د الهی نعماتو نه په ښه او په تعادل توګه خوند او لذت واخلي.**
**ـ په عباد ، پرهيزګاري او نيکو اعمالو ، ځان د رستګاري خواته ورسوي.**
**ـ د اجتماعي پرمختګ او د بشريت د خير او سعادت په مقصد ، هلی او ځلی وکړي.**

**زما عقيده: د انسان د رسالت غوښتنه داده چی ، خلک د حق او حقانيت په رڼا کی ژوند وکړي او خپلی ويناوې، تعبير ، ليکني ، کره او وړه په همدغه اساس عيار کړي.**

سعيد افغاني
کابل ـ ۱۳۵۶ هجري شمسي

ترتيب کوونکی: برهان الدين « سعيدي »
www.said-afghani.org ـ بارګشت به صفحه اصلی